# د افغــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۵/ ربيع الاول/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۷ /سنبله /۱۴۰۴هـ، ش**

## د ربيع الاول په مبارکه مياشت کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دنيا ته تشريف راوړل د ټولې نړۍ لپاره د رحمت او سعادت سبب وګرځېده.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

إن الحمد لله أحمده سبحانه وأ ستعينه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له. وأشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ولي المؤمنين المتقين، وأشـهد أن سـيدنا محمداً صـلى الله عليه وسـلم عبد الله ورسوله، بعثه الله رحمةً للعالمين بشيراً ونذيراً، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً فبلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة وكشف الله به الغمة وتركنا على المحجة البيضاء ليلها كنهارها لا يزيغ عنها إلا هالك ،صلى الله تعالى عليه وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهديه وسار على نهجه إلى يوم الدين وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:( وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ)[ السبأ: ۲۸]

**ګرانو حاضرينو او درنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**

د هر قوم او ملت لپاره د خوښۍ او سعادت ورځې وي؛ زمونږ د مسلمانانو لپاره د خوښۍ او سعادت ورځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم دنيا ته تشريف راوړل دي چې د ټولې نړۍ د رحمت او سعادت سبب دی.

د مثال په ډول د بني اسرائيلو لپاره د خوښۍ ورځ د موسی عليه السلام او د بني اسرائيلو له فرعون څخه د نجات ورځ وه او هغوی به باقاعده دغه ورځ په خوشـحاليو او روژو نيولو سره لمانځله ؛ خو زمونږ د مسـلمانانو لپاره ، بلکې د ټولې نړۍ لپاره د خوشـحالۍ ورځ د رسول الله صلی الله عليه وسلم دنيا ته تشريف راوړل دي.

**د رسول الله صلی الله عليه وسلم دنيا ته د تشريف راوړلو نيټه او تاريخ:**

رسول الله صلی الله عليه و سلم د ربيع الاول په دولسم تاريخ ددو شنبې په سهار چې د ۵۷۱ ميلادي کال چې د اپريل مياشت (۲۰) شلم تاريخ سره سمون خوري په مکه مکرمه کې په شِعب بني هاشم کې نړۍ ته تشريف راوړ.

چې په دغه کال کې فيل واقعه پيښــه شـوی وه او د کسـری پاچا نوشـيروان په پاچاهۍ باندې ځلويښـت کلونه تير شـوي ؤ.الرحيق المختوم (ص: ۳۵)

رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل پيدايش د ورځې په اړه فرمايلي دي:( ذَلِكَ يَومٌ وُلِدْتُ فِيهِ ، وَيَومٌ بُعِثْتُ ، أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ ) رواه مسلم .

ترجمه:- (دو شنبه) هغه ورځ ده چې زه په کې پيدا شوی يم او په همدې ورځ په پيغمبرۍ مبعوث شوی يم يا يې دا سې وفرمايل چې په دغه ورځ پر ما وحې نازل شوی ده. کله چې حضرت محمد صلى الله عليه و سلم دنيا ته تشريف راوړ؛ نو مور يې بي بي آمنې خپل نيکه عبدالمطلب ته وليږلو او هغه ته د لمسي زيری ورکولو . عبدالمطلب په ډيرى خوشحالى سره نبي عليه السلام کعبې شريفې ته راوړ او الله تعالى څخه يې دعاء وغوښتله او د نبي عليه اسلام ته يې د برکت دعاء وکړه. او نبي عليه السلام يې په اوومه ورځ ختنه کړ. الرحيق المختوم (ص: ۳۵)

رسول اکرم صلي الله عليه وسلم چې کله دنيا ته تشريف راوړ، د هغه نيکه ورلره نوم محمد(صلى الله عليه وسلم) کېښود.

مؤرخين ليکي چې ددې نوم د غوره کولو لامل دا ؤ چې د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم نيکه عبدالمطلب خوب وليده چې دده له ملا څخه د سپينو زرو زنځير راووتلو چې يو طرف يي په آسمان کې ؤ او بل طرف يې په ځمکه کې ؤ ، بل طرف يې په مشرق کې ؤ او بل طرف يې په مغرب کې ؤ ، بيا يي وکتل چې دا ونه وگرځيدله چې په هره پاڼه کې يې روشنايي وه او د مشرق او مغرب خلک ور پورې ځانونه ځوړندوي. دده د خوب تعبير د هغه وخت عالمانو داسې وکړ چې د عبدالمطلب په کور کې به داسې ماشوم پيداکيږي چې دمشرق او مغرب ټول خلک به يي متابعت کوي او د آسمان مخلوق به يې هم په حمد سره ستايي او د ځمکې خلک به يي هم په حمد سره ستايي؛ نو کله چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم پيدا شو عبدالمطلب ورباندې محمد(صلى الله عليه وسله) نوم کېښوده . په عربو کې مخکې چا داسې نوم نه ؤ ايښی ، خلکو عبدالمطلب ته وويل چې دادې څرنګه نوم په لمسي کېښوده؟ هغه ورته وويل: دانوم مې ددې لپاره په خپل لمسي کېښود ترڅو دآسمانونو او ځمکې مخلوق يې صفت او ستاينه وکړي او په آسمان کې هم محمد(ستايل شوی) وي او په ځمکه کې هم محمد(ستايل شوی) وي. عيون الأثر، لابن سيد الناس (۱/ ۸۸)

په حديث شريف کې راځي چې کله نبي عليه السلام پيدا شو د بي بي آمنې له جسم څخه داسې روشنايي راووتله چې د شام قصرونه يې رڼا کړل. «عَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّينَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ وَزَادَ فِيهِ إِنَّ أُمَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْهُ نُورًا أَضَاءَتْ مِنْهُ قُصُورُ الشَّامِ». مسند أحمد (۲۸/ ۳۸۲)

ترجمه:- د عرباض بن ساريه رضى الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل:زه دالله تعالى بنده يم او خاتم النبيين يم او په دې کې دا سې هم ور زيات کړل : بيشکه د نبي عليه السلام مور بي بي (آمنه) چې کله نبي عليه السلام وزيږولو، وه يې ليدله يوه روشنايي چې د هغې څخه د شام قصرونه روښانه شول.

دنيا ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تشريف راوړلو پر وخت ډير زيات معجزات رامنځ ته شول چې د هغې له جملې څخه د کسرى پاچا د قصر د بروجونو لويدل دي او کله چې نبي عليه السلام دنيا ته تشريف راوړلو، نو د فارس د آتشکدې اور مړ شو چې د زرو کلونو څخه نه ؤ مړ شوی. د امام ماوردي ذکر کړي دي: (عن مخزوم بن هاني المخزومي عن أبيه و أتت له مائة و خمسون سنة قال : لما كانت الليلة التي ولد فيها رسول الله صلى الله تعالى عليه و سلم أو بعث ارتجس إيوان كسرى فسقطت منه أربع عشرة شرفة و خمدت نار فارس و لم تخمد قبل ذلك بألف عام و غارت بحيرة ساوة). أعلام النبوة - الماوردي (ص: ۱۹۸)،خلاصة سيرسيد البشر- لمحب الطبري(ص: ۲۵)

ژباړه:- د مخزوم بن هاني د خپل پلار هاني المخزومي څخه روايت کوي چې د هغه (۱۵۰) يوسل او پنځوس کاله عمر ؤ ، هغه وايې په هغه شپه کې چې ر سول الله صلى الله عليه و سلم دنيا ته تشريف راوړ يا چې کله مبعوث شو؛ نو ولړزيده د کسرى قصر چې د هغې څلور برجونه راولويدل او د فارس اور (چې خلکو يې عبادت کولو) مړ شو چې د زرو کلونو په موده کې کله نه ؤ مړ شوی او د ساوه بحيره وچه شوه.

د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم کورنۍ په عربو کې د لوړې مرتبې او ستر نسب خاوندان وو، د هغه نیکونه د عربو اشراف او د غوره اخلاقو څښتنان ګڼل کېدل.
پیغمبر صلی الله علیه وسلم یتیم او بېوسه وزیږېد، ځکه چې د هغه پلار عبدالله د ده د زیږېدو نه مخکې وفات شوی و، په داسې حال کې چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مور بي بي آمنه بنت وهب په ګېډه ؤ.
د عربو عادت داسې و، چې د زیږېدو وروسته به یې ماشومان د باندو ښځو ته ورکول، څو له ښارونو کې د ناروغیو څخه وساتل شي، بدنونه یې روغ او قوي شي او له وړکتوبه فصیح او پاکه عربي زده کړي.
له همدې امله آمنه بنت وهب خپل ماشوم محمد صلی الله علیه وسلم د بنو سعد یوې ښځې ته وسپاره، چې حلیمه سعدیه رضي الله عنها نومېده.حلیمه رضی الله عنها له دې مبارک ماشوم څخه عجیبه برکتونه ولیدل: د هغې په سینه کې شیدې ډېرې شوې، د هغوی د څارویو وانښه ډېر شول، رمو غوړ او ښه بدنونه پیدا کړل.

د حلیمې رضي الله عنها ژوند چې مخکې په قحطۍ، فقر او مشقت کې تېرېده، په نعمت، برکت او خوشحالۍ بدل شو. نو حلیمه رضي الله عنها پوهه شوه چې محمد صلی الله علیه وسلم عادي ماشوم نه دی، بلکې یو مبارک ماشوم دی، او ډېر ژر به ستر مقام ته ورسېږي. له همدې امله هغه په ډېره مینه او کلکه پاملرنه سره ورسره پاتې شوه.

حضرت حلیمې سعدیې رضي الله عنها د نبي علیه السلام دوه کاله ډیره ښه پالنه وکړه، خو کله چې په بني سعد قبیله کې د نبي علیه السلام شق الصدر واقعه پېښه شوه، نو حلیمه سعدیه په نبي علیه السلام وویریده او هغه مکې مکرمې ته راوستلو.

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړل د ټولې نړۍ او عالَم لپاره سعادت او رحمت دی:**

الله جل جلاله فرمايلي دي: (قُلْ بِفَضْلِ اللّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُواْ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ)[یونس: ۵۸]

ترجمه:- ووایه (ای محمده ! مؤمنانو ته) په فضل د الله سره او په رحمت د الله سره؛ نو په همدغه (فضل او رحمت) دې خو شاله شي مؤمنان،(ځکه چې) دغه (فضل او رحمت) ډېر غوره دی له هغو مالونو چې جمع کوي (یې) دوی.

**وجه د استدلال:**د مفسرینو په دې کې اختلاف دی چې د الله له فضل څخه څه شی مراد دی او دالله تعالی د رحمت څخه څه شی مراد دی؟
ځینې مفسرین وايي چې د الله تعالی له فضل څخه اسلام مراددی او دالله له رحمت څخه مراد قرآن کریم دی. ځینې بالعکس نظر لري. خو یوه ډله مفسرین وايي چې د الله تعالی د فضل څخه قرآن کریم مراددی او د الله تعالی د رحمت څخه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړل مراددي او دا نظر ځکه راجح ښکاري چې د قرآن کریم په دې آیت کې فرمایلي دي(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)[ الانبیاء: ۱۰۷] چې ته مونږ یواځې عالمیانو ته رحمت لیږلی یې. نو د رحمت څخه مراد حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی. المحرر الوجيز - (۳ /۱٤۲)
په یو روایت کې راځي د عبدالله بن عباس رضي الله عنه ددې أیت په تفسیر کې وايي: (فضل الله العلم ورحمته محمد صلی الله علیه و سلم قال الله تعالی وما أرسلناك إلا رحمة للعالمين) الأنبياء:( ۱۰۷ ). الدر المنثور (٤ /۳٦۷)
ژباړه:- فضل د الله علم دی او رحمت دالله تعالی هغه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دی . الله فرمایلي دي: وما أرسلناك إلا رحمة للعالمين) الأنبياء:۱۰۷ د پورتني آیت دوهمه برخه کې الله تعالی فرمايي چې باید ټوله نړۍ پر دې خوشحاله شئ .
دا به څرنګه معلومه شي چې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دنیا ته تشریف راوړل د نړۍ لپاره سعادت دی؟

په لاندې تفصیل کې د پورتني سوال ځواب پروت دی:حضرت محمد صلی الله علیه و سلم نړۍ ته په دا سې حالت کې تشریف راوړ چې ټوله نړۍ په، جهل او فساد کې ډوبه وه.

ابوالحسن ندوي رحمه الله وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مخکې ، په نړۍ کې داسې هېڅ ملت نه و چې د اخلاقو، عدالت، رحم، علم او حکمت پر بنسټ ولاړ حکومت یا ټولنه ولري.

**۱- عربي ټولنه :** په ټوله کې عربان د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نړۍ ته د تشریف راوړلو څخه مخکې په سخت جهل کې ژوند کاوه، د ځنګل د ځارویو په شان ژوند تیرولو.

عربي نړۍ په خرافاتو او ناپوهی باندې باور درلود، ټیټ او بد اخلاق، ناوړه عادتونه او کرغېړن دودونه په خلکو کې رائج وه.

د عربو تر ټولو ستره عقیده د بتانو عبادت و. هر قوم، هرې قبیلې، آن هر کور به خپل بوت درلود. د حضرت ابو رجاء العطاردي رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي:(مونږ به د ډبرې عبادت کاوه، که به مو بله ښــه ډبره موندله، هغه لومړۍ به مو وغورځوله او د نوې ډبرې عبادت به مو پیل کړ ، که به مو ډبره هم نه موندله، د خاورو غونډۍ به مو جوړه کړه، د پسونو شیدې به مو پرې تویې کړې او بیا به د هغې غونډۍ شاوخوا تاویدلو). صحیح البخاري ت (۱۰/ ٤٥٥)

عربانو یوازې بوتان نه لمانځل، بلکې: ملائکې یې د الله لوڼې بللې او هغوی ته به یې ســجده او عبادت کاوه.جنیات او پیریان دالهي ځواک په شان ګڼل او د هغوی له ځواک نه یې وېرېدل او عبادت یې کاوه، ځینو قبیلو به ستوري او سیارې یې هم معبودان بلل.

شراب څښــل ډېر عام وو، دومره چې د هغوی د شــعر او ادب یوه برخه وه.قمار (میسِرــ) هم ډېر خپور و. قتاده رحمه الله وایي:(په جاهلیت کې به سړي د خپلې کورنۍ او مال پر سر قمار واهه، کله به یې بایلود، غمجن به کېناست او خپل مال به یې د بل په لاس کې ولید. همدا کار د دښمنۍ او کرکې لامل کېده.)

ربا (سود) د عربو او یهودو تر منځ رواج شوی و، تر دې چې دوی ویل: (سود او تجارت یو شان دي) .زنا عامه شوی وه او د ښځې او سړي تر منځ پاکه اړیکه نه وه. لکه څنګه چې عایشه رضي الله عنها ویلي، د جاهلیت نکاح څلور ډوله وه: (چې په حقیقت کې د لومړۍ په استثناء دا نورې درې واړه زناګانې وې).

۱. د نن ورځې نکاح ته ورته ـ د ښځې د ولي په رضا.

۲. نکاح الاستبضاع ـ چې سړي به خپلې ښځې ته وویل، له فلاني سره همبستري وکړه؛ ترڅو اولاد یې ښه صفات ولري.

۳. څو تنه (تر لسو پورې) به یوې ښځې سره اړیکه ونیوله، که ماشوم پیدا شو، ښځې به وایه: دا د فلاني دی.

٤. فاحشــې ښــځې به د کور مخې ته بیرغونه پورته کول او هر څوک به ورتلل، کله به چې ماشــوم پیدا شــو، قیافه پوهانو به ورته پلار ټاکه. فقه السنة (۲/ ۹)

په جاهلیت کې د ښځې هیڅ ارز ښت نه درلود، عمر رضي الله عنه ویلي:(په جاهلیت کې موږ ښځو ته هېڅ ارز ښت نه ورکاوه، تر څو چې الله د هغوی په اړه احکام نازل کړل.)

ښــځې د میراث حق نه درلود، ویل به یې: (میراث یوازې هغه ته دی چې توره پورته کولای شي او د قبیلې دفاع کولای شي.) که سړی به مړ شو، زوی یا بل نژدې خپل یې د هغه ښځه لکه د مال په څېر په میراث کې وړله، کله به چې حائضه شوه،د هغې د اوسیدو ځای به یې جدا کړ، ښځې د طلاق یا واده په اړه هېڅ حق نه درلود، څو ښځې ساتل بې شمېرې وې. د لوڼو سره کرکه دومره زیاته وه

چې  هغه به یې ژوندۍ په خاورو کې خښولې. که یوه نجلۍ ژوندي پاتې شوه، بیا هم د ظلم ډکه ژوند به یې لرله. لوږه او زامن به یې ځیني وخت د فقر له ویرې وژل. د ازلامو (غشي) له لارې به یې برخلیک ټاکه.

سخته قبیلوي تعصب واکمن و، چې هر څوک اړ ایست چې د خپلې قبیلې ملاتړ وکړي، که په حق وي او که په باطل. دوی د نسب او حسب په ویاړلو او د مقام او نوم په ساتلو ډېر حریص وو، چې ډېرې وخت د قبیلو ترمنځ د جګړو او نښتو لامل کېده. دا جګړې کله کله کلونه روانې وې، وینې په کې بې‌ارزښته تویېدلې، سره له دې چې د جګړو اصلي لاملونه ډېر وړوکي او بې‌ارزښته وو.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدایښت څخه مخکې د ظلم څخه حتی څاروي او حیوانات هم په امن کې نه ؤ، خلکو به ژوندۍ حیوان د هدف په توګه وټرلو او ترهغې به یې ژوندۍ حیوان ویشتلو چې هغه به مړ شو.

**۲- فارسي ټولنه:** د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د تشریف راوړلو پر وخت فارسیانو هم د لمر، سپوږمۍ او د اسمان د نورو اجرامو عبادت کولو.

بیا زردشت راغی او د توحید دعوه یې وکړه، خو خلکو ته یې د لمر او اور پر لور په لمانځه کې د مخ اړولو امر وکړ. همدا راز ځینو فارسیانو به د اور عبادت هم کولو او د باطل او ضلالات په توپان کې ور ګډ ول.د رڼا او ظلمت په الوهیت یې عقیده درلوده.

په فارسیانو کې د الحاد عقیده (مزدک) رامنځ ته کړه او  خلکو به یې د ښځو او مالونو ګډوالي ته یې رابلل او لکه د اوبو، اور او واښو په څېر یې ښځې او مالونه دټولو خلکو شریک حق ګڼلو .

په فارس کې سخت طبقاتي  نظام قائم ؤ او د انسان مقام د هغه په نسب ټاکل کېده،نه یې بدلولای شو او نه یې خپله مسلک بدلولای شـو. فارسـیانو د خپلو پاچاهانو ډېر درناوی کاوه، آن تر دې چې د هغوی په اړه یې د الوهیت باور درلود او هغوی ته به یې ســجدې کولې.

 د تاج اوسـلطنت حق یې د خپلو پاچاهانو ځانګړی حق ګڼلو.د پاچاهانو خزانې له سرو زرو او سـپینو زرو ډکې وې،خو عام خلک یې په فقرکې ژوند کاوه.

**۳-رومي ټولنه:** رومیانو هم د سـخت طبقاتي نظام لاندې ژوندکولو، په دولت کې د رشـوت، خیانت، ظلم او د حق ضـائع کیدل اوج ته رسیدلي ؤ.

رومیانو خپل ملت او وطن  سپېڅلي ګڼل، نور ملتونه یې یا غلامول یا یې په فقر او ظلم کې  ساتل. تر ټولو  ستره جفا یې په مسیحیت وکړه، چې هغه یې مسـخ کړ. د روم بت پرسـتۍ د مسـیحیت بڼه مسـخه کړه. نه په کې خالص توحید پاتې شـو او نه روښـانه بت پرستي. بولس او قسطنطین د یونان، روم او لرغوني مصر له عقایدو ګډ نوی مسیحیت رامنځ ته کړ او د اصلي مسیحیت پیروان یې په ډلو وویشل شول او یو د بل پر ضد یې جګړې کولې.رومیانو مصر د سیاسي استبداد، او د دیني ظلم لاندې کړ او تل به د رومیانو او مصریانو ترمنځ جګړې روانې وې.

د رومیانو او مصریانو تر منځ جګړې یوازې د دیني اختلافاتو لپاره وې، خلک به د عقیدې پر سر  قرباني کیدل، لکه سوځول، ډوبول او د ریګو په کڅوړو کې په سمندر غورځول.نو د روم تر واک لاندې مصر د نصرانیت په نوم یوازې له بدبختۍ او عذاب سره مخ و.

**۴- هندي ټولنه:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تشریف راوړلو څخه مخکې په هند کې خلک په درې طبقو ویشل شوي ؤ ښځې په ډېره ټیټه درجه کې وې، تر دې چې د مېړه تر مرګ وروسـته به یې ځان د هغه سره سـوځاوه. په هند کې بت پرسـتي عامه وه، د هغوی د عقیدې فساد تر دې کچې رسېدلی و چې د نارینه او ښځینه د تناسلي آلې عبادت یې کاوه. د هغوی خدایان ۳۳۰ میلیونه ته رسېدل.

**۵- چیني ټولنه:** چینایان د «لاوتسـو» او «کنفوشـیوس» تر منځ سرګردان وو. لومړي د فلسـفې خبرې کولې او دوهم د دنیا د چارو. هغوی خدای ته په هېڅ ډول عقیده نه لرله. د بودایزم وروسته دا ټول د خرافاتو او مجسمو سره ګډ شول.

**٦- یهودي او نصـرانـي ټولنې:** یهود په آسـیا، افریقا او اروپا کې خپاره وو. دوی د نورو تر واک لاندې وو، تل نورو د ظلمونو لاندې وو، دوی د قساوت، ربا، طمع، نفاق او دنیا غوښتنې صفات اختیار کړي وو. یهودي علماوو ځانونه پر دین واکمن کړي وو او ځانونو ته یې د الوهیت درجه ورکړې وه ، خلک یې د خپلو ګټو لپاره غلامان ګرځولي وو.

مسـیحیت هم له اصـلي روحانیت نه اوښــتی وو، له شرک او ثنیت سره ګډ شــوی وو، تر دې چې دالله تعالی او د انســان تر منځ یې عجیب ګډې وډې او متضادې مفکورې رامنځته کړي وې.

یهودو او نصــاراو به تل دښــمني او جنګونه کول او یو د بل دښــمنان ؤ، دوی به یو د بل معابد ویجاړول، خلک به یې وژل او د هر ډول ظلم نه به یې ډډه نه کوله. د نصاراوو راهبانو هم د خلکو مالونو لوټل او په هغوی یې ددین له ادرسه ظلم کولو.

په نړۍ کې روان جهل ، ناپوهي او روان جبر او ا ستبداد د اوج حالت خپل کړی وو ، چې الله جل جلاله د نړۍ پر انسانانو رحم وکړ او الله تعالی د شـپې پر توره تیاره کې د سـهار څرک راوخیژولو او الله جل جلاله د نړۍ نجات لپاره د رحمت او عدالت، سـمبول حضرـت محمد صـلی الله علیه وسـلم د نړۍ انسـانانو ته د رحمت او هدایت په توګه راولیږه، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(وَمَا أَرْسَـلْنَاكَ إِلا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ)[ الانبیاء: ١٠٧]ترجمه:او نه یې لیږلی مونږ ته (ای محمده!) مګر رحمت لپاره د (ټولو)عالمیانو.

**وجه د ا ستدلال:** حضرـت محمد صـلی الله علیه وسـلم دنیا ته په تشرـیف راوړلو سره ، هغه د ځمکې څخه د شرک او بت پرسـتۍ او شـخص پرسـتۍ، وژل، چور او چپاول، ناروا ، ظلم ، اسـتبداد ټغر ټول کړ او انسـانانو ته یې هدایت، روښـنایې، عدالت او انصـاف په تحفه کې راوړ، نو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ټولو انسانانو لپاره رحمت دی.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایې: (هُوَ عَامٌّ فِي حَقِّ مَنْ آمَنَ وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ فَمَنْ آمَنَ فَهُوَ رَحْمَةٌ لَهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ فَهُوَ رَحْمَةٌ لَهُ فِي الدُّنْيَا بِتَأْخِيرِ الْعَذَابِ عَنْهُمْ وَرَفْعِ الْمَسْخِ وَالْخَسْفِ وَالِاسْتِئْصَالِ عَنْهُمْ). تفسير البغوي - إحياء التراث(٣ /٣٢٠)

ژباړه:- دا آیت عام دی په حق د هغه چا کې چې ایمان یې راوړی دی او په حق د هغه چاکې چې ایمان یې نه دی راوړی. نو نبي علیه السـلام رحمت دی د هغه چا لپاره چې ایمان یې راوړی دی په دنیا او آخرت کې او چاچې ایمان نه دی راوړی نبي علیه السـلام د هغو لپاره هم رحمت دی په سبب د تاخیر د عذاب د هغوی څخه د نبي علیه السلام په وجه او د هغوی څخه دمسخه کیدلو او په ځمکه کې د ننوتلو څخه د خلاصون په باره کې.

قاضي بیضاوي وایې :(لأن ما بعثت به سبب لإسعادهم وموجب لصلاح معاشهم ومعادهم وقيل كونه رحمة للكفار أمنهم به من الخسف والمسخ وعذاب الاستئصال). (٤ /١١١)ژباړه: ځکه په څه چې زه لیږل شوی یم هغه د عالمیانو د سعادت سبب دی او ددوی د ژوند او مرګ د صــلاح موجب دی. او ویل کیږي چې د کفارو لپاره ځکه رحمت دی چې ددوی لپاره امن دی ددوی لپاره په ځمکه د ننوتلو، مسخه کیدلو او د منځه تللو څخه.

امام ابو اللیث ســمرقندي رحمه الله وایې:(أي لجميع الخلق لأن الناس كانوا ثلاث أصــناف مؤمن وكافر ومنافق وكان رحمة للمؤمنين حيث هداهم طريق الجنة ورحمة للمنافقين حيث أمنوا القتل ورحمة للكافرين بتأخير العذاب). بحر العلوم ـ (٢ /٤٤٥)

ژباړه:- ( نبي علیه السلام رحمت دی) د ټولو خلکو لپاره ؛ ځکه چې انسانان په درې ډوله دي ، مؤمنان، کافران اومنافقان. او نبي علیه السـلام رحمت دی د مؤمنانو لپاره ځکه چې مؤمنانو ته دجنت لارې ورښـایې او نبي علیه السـلام رحمت دی د منافقانو لپاره ځکه چې د نبي علیه السلام په وجه د قتل(وژلو)څخه په امن کې دي او نبي علیه السلام رحمت دی د کفارو لپاره د عذاب د تاخیر په وجه.

ددې قول تائید د سورت سبأ له آیت څخه معلومیږي چې الله تعالی فرمایلي دي مونږ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ټولو انسانانو ته رالیږلی دی: ( وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ)[ السبأ: ٢٨]

ترجمه:- او نه یې لیږلی مونږ ته مګر په دې حال کې چې جامع یې خلقو ته زیری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته) او ویروونکی (له دوزخ کفارو ته) و لیکن اکثر خلق (له کفارو) نه پوهیږي(په فضائلو ستا او په رذائلو خپلو).

په یو حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ قَالَ « إِنِّى لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً ». صحيح مسلم (٨ /٢٤)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي چې نبي علیه السلام ته وویل شول چې مشرکانو ته بددعایې وکړه. نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه زه نه یم لیږل شوی چې (په خلکو) لعنت ووایم ، بیبیشکه زه لیږل شوی یم رحمت.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة قال : قال ر سول الله صلى الله عليه و سلم : يا أيها الناس إنما أنا رحمة مهداة) وقال الحاكم صحيح على شرطهما ووافقهه الذهبي. المستدرك( ١ /٩١)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: ای خلکو! بیشکه زه رحمت یم په هدیه کې ورکړل شوی یم.

حتی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ځارویو ، حیواناتو ، حشراتو او مارغانو لپاره هم رحمت ؤ، ځکه د حیواناتو او ځارویو تعذیبول، د ژوندي حیوان څخه د غوښې قطع کول یا ژوندی حیوان د نښې په توګه له ویشتلو څخه یې منع کړی ده، پرته له حاجته یې ذبح کول منع کړي دي، پرته له ضرورته یې د حشراتو له وژنې یا سوزولو څخه منع کړی ده او پر حیواناتو ترحم کولو ته یې خلک هڅولي دي.

**دنیا ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تشریف راوړلو باندې خوشحالي په کار ده.**

دنیا ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تشریف راوړل د الله تعالی په ټوله نړۍ باندې فضل او مهرباني ده او مونږ ته په کار دي چې د الله تعالی په فضل او رحمت باندې د خوشحالی او خوښۍ اظهار وکړو.الله جل جلاله فرمایلي دي: (قُلْ بِفَضْلِ اللّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُواْ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ)[یونس: ٥٨]ترجمه: ووایه (ای محمده ! مؤمنانو ته) په فضل د الله سره او په رحمت د الله سره؛ نو په همدغه (فضل او رحمت) دې خوشاله شي مؤمنان،(ځکه چې) دغه (فضل او رحمت) ډېر غوره دی له هغو مالونو چې جمع کوي (یې) دوی.

لکه مخکې مو چې وویل چې د رحمت څخه مراد د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دنیاته تشریف راوړل دي؛ نو باید ټول جهانیان دنیا ته د هغه په راتللو خوشحاله شئ ؛ ځکه چې نبي علیه السلام دنیا ته راتلل ددنیا له مال او متاع څخه بهتره دي. المحرر الوجيز۔ (٣ /١٤٢)

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه سره ملګري اصحاب رضي الله عنهم مدینې منورې ته هجرت وکړ، نو د مدینې منورې مسلمانان د رسول الله صلی الله په ورتللو باندې ډېره زیاته خوشحالي کوله او د خوشحالی له امله یې دریا ګانې وهلې.

په یو روایت کې راځي: عن الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ وَكَانَا يُقْرِئَانِ النَّاسَ فَقَدِمَ بِلَالٌ وَسَعْدٌ وَعَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ ثُمَّ قَدِمَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي عِشْرِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَرِحُوا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. صحيح البخاري ت (٩ /٥٣٧)

ژباړه:- د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې لومړی مونږ ته مصعب بن عُمیر او عبدالله بن مکتوم راغلل ، هغوی دواړو به مونږ ته قرآن کریم لوستلو، بیا بلال او سعدبن وقاص او عمار او یاسر رضي الله عنهم راغلل، بیا حضرت عمر رضي الله عنه د شلو صحابه کرامو سره راغی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی، نو ما اهل مدینه دومره خوشحاله نه لیدلي څومره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په راتللو باندې خوشحاله ؤ.نو هرکله چې نبي علیه السلام د نشت څخه دنیا تشریف راوړي نو آیا موږ به ور باندې خوشحالي نکوو؟ بلکې څو چنده ځکه هغه هدایت کوونکی دی، هغه د الله تعالی استازی دی، هغه د الهي پیغام رسوونکی دی.

مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله په خپل مشهور تألیف کې( المهند على المفند) چې په عقائد علماء دیوبند سره شهرت لري کې د یوسؤال په جواب کې داسې لیکلي دي : (حاشا ان يقول احد من المسلمين- فضلاً أن نقول نحن- أن ذكر ولادته الشريفة عليه الصلاة والسلام بل ذكر غبار نعاله وبول حماره مستقبح من البدعات السيئة المحرمة، فالاحوال التي لها ادنى تعلق برسول الله ، ذكرها من أحب

المندوبات واعلى المستحبات عندنا-... الى أن قال: بشرط أن يكون مقروناً بصدق النية والاخلاص ، واعتقاد كونه داخلاً في جملة الاذكار الحسنة المندوبة غير مقيد بوقت من الأوقات اهـ) المهند على المفند ص (٧٨-٧٩)

ژباړه:- داسې هيڅلکه نه ده، مونږ خو پرېږده يو مسلمان داسې نشته چې وو ايې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارک ولادت بيانول حتى چې د ر سول الله صلي الله عليه و سلم د پايزار مبارک د ګرد بيانول ، او يا د ده مبارک د خره د بولو بيان هم وي قبيحه دي او د حرامو بدعاتو څخه دي! بلکې زمونږ په نزد باندې هغه احوال چې د هغې ډير کم تعلق د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وي ، د هغې ذکر د غوره کارونو او د اوچتو مستحباتو څخه دي...په دې شرط چې په رېښتني نيت او اخلاص سره وي او په دې عقيده وي چې دا د نيکو او مستحبو اذکارو څخه دي او بل داچې د وختونو څخه په کوم وخت پورې مقيد نه وي.

**د رسول الله صلى الله عليه وسلم دنيا ته تشريف راوړل د نړۍ لپاره ستر نعمت دی،بايد چې ددغه ستر نعمت شکر پرځای کړو.**

دنيا ته د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم تشريف راوړل په حقيقت کې الله تعالى په دې امت باندې احسان او انعام کړی دی. لکه چې الله تعالى فرمايلي دي:( لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلالٍ مُبِينٍ)[آل عمران: ١٦٤]

ترجمه:- خامخا په تحقيق احسان کړی دی الله پر مؤمنانو باندې کله چې مبعوث کړ (راولېږه الله) پد دی (مؤمنانو) کې رسول له نفس (جنس) د دوی نه. چې لولي (دغه رسـول) پر دوی باندې آيتونه د الله او پاکوي دوی (په توحيد سره له ګناه کينې او شرکه) او ښـيي دوی ته کتاب (قرآن) او حکمت (نبوي سنت او شرعي احکام) او بېشکه وو دوی (له دې نه) پخوا هرو مرو په ګمراهی ښکاره کې.

سره ددې چې دنيا ته د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم تشريف راوړل د ټولو انسانانو لپاره انعام ؤ، خو داچې د هغه د رسالت څخه ګټه اخيستونکي يواځې مسلمانانو ؤ ؛ نو ځکه الله تعالى وفرمايل: الله تعالى په مؤمنانو احسان وکړ.

امام ابوليث شمرقندي ددې آيت په تفسير کې وايې: يعني أنعم الله على المؤمنين)بحر العلوم (١ /٢٨٧)

يعنې بيشکه انعام وکړ الله تعالى پر مؤمنانو چې وه يې ليږه په دوی کې ر سول ددوی له جنس څخه او داحسان او انعام وجوهات يې دوه دي . يو داچې الله تعالى دوی ته د جهالت او شرک څخه د راويستلو لپاره پيغمبر راوليږلو او دوهم داچې هغه راستول شوی پيغمبر د انسانانو له جنس څخه دی، که چيرې د ملائکو څخه يې راليږلی وای، نو د تعليم او تعلم سلسله به سخته وه.

نو انسانانو ته بالخصوص مسلمانانو ته په کار دي چې د الله تعالى ددې احسان او انعام شکر پرځای کړي.

امام ابن رجب حنبلي رحمه الله وايي:په دې امت باندې د الله تعالى له لويو نعمتونو څخه د حضـرت محمد صـلى الله عليه وسـلم را ظاهرول او د هغه بعثت دی لکه چې الله تعالى فرمايي(لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاًمِنْ أَنْفُسِهِمْ)،امت ته د پيغمبرعليه السلام د را ليږلو نعمت د آسمان، ځمکې،لمر،سپوږمی،هوا،شپه،ورځ،د باران او د نباتاتو د زرغونيدلو او نورو نعمتونو څخه خورا زيات لوی نعمت دی.[تفسـير ابن رجب الحنبلي]د سـورت آل عمران پورتنی آيت په وضـاحت او صراحت سره فرمايي چې پيغمبرعليه السلام د الله تعالى نعمت او احسان دی، د رسول او پيغمبر څخه بل ستر نعمت نشته؛ ځکه رسولان او پيغمبران د ټولو نعمتونو اصل دی، پيغمبر او رسول هدايت او روښنايې ده، که چيرې پيغمبرنه وي انسان به دجهل په تورو تياريکيو کې پروت وي او ښه به له بدو ونه پيژني.

همدارنګه د ر سول الله صلى الله عليه و سلم دنيا ته تـشريف راوړل د بـشريت لپاره د لويو نعمتونو څخه دی او مـسلمانان بايد په دغه سـتر نعمت باندې شـکر وباسي. الله تعالى فرمايلي دي: (كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِّنكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ* فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ)[البقرة:١٥١]

ترجمه:- لکه چې ليږلی دی مونږ په تاسې کې رسول له جنس د تاسې (لپاره د اتمام د نعمت خپل) چې لولي په تاسې آيتونه (قرآن)

زمونږ او پاکوي تاسې (له کفره) او ښيي تاسې ته کتاب (قرآن) او د (هغه عميق اسرار او) احکام او ښيي تاسې ته هغه شيان چې نه وئ تاسې چې پرې پوهېدئ

دنيا ته د نبي عليه السلام د تشريف راوړلو په باره کې حضرت عيسى عليه السلام خپل امت ته زيرى ورکړى ؤ او زيرى ورکول عموماً د نعمت په اړه خلکو ته خبرتيا ورکول وي.

لکه چې په حديث شريف کې راځي: (وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرائيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقاً لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّراً بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ)[ الصف:٦]

ترجمه:- او ( ياد کړه اى محمده! هغه وخت ) کله چې وويل عيسى زوى د مريمې داسې چې اى بني اسرائيلو (اولاده ديعقوب!) بېشکه زه ر سول ليږل شوى د الله يم تاسې ته (حال دا چې) تصديق کوونکى يم د هغه کتاب چې وړاندې زما دى له (تورات) څخه. او زېرى کوونکى يم په هغه رسول سره چې رابه شي وروسته له ما څخه چې نوم د هغه احمد دى بيا کله چې راغى هغه (رسول) دوى ته په ښکاره وو معجزو سره وويل (بنى اسرائيلو) دا (قرآن) سحر کوډې دي ښکاره.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: (هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ)[الجمعة:٢]

ترجمه:- دغه الله هغه ذات دى چې پورته کړى لېږلى يې دى په امتيانو نا پوهانو کې يو رسول (محمد) له دوى څخه چې لولي پر دوى باندې آيتونه د دې قرآن او پاکوي دوى (له شرکه او له نورو رذيله وو اخلاقو) او ښيي دوى ته کتاب (قرآن) او احکام د قرآن اګر که وو دوى پخوا له (بعثه د محمده) خامخا په ګمراهى ښکاره کې

نبى عليه السلام هغه مقدس ذات دى چې مونږ ته يې دګمراهيو د تورتمونو څخه دهدايت سمې او روښانه لارې ته لارښوونه کړې ده او په دې لار کې يې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کړې دي چې ددې څخه د مسلمان لپاره بل ستر او لوى نعمت نشته او مونږ ته په کار دي چې ددغه الهي نعمت شکر په ځاى کړو.

چې د محمدصلى الله عليه وسلم شکر په ځاى کول د هغه صلى الله عليه وسلم سره محبت کول دي، د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د اوامرو اتباع، هغه پسې اقتداء کول او دهغه پيروي کول دي، د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم د دين دعوت او تبليغ کول دي.

د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم سره محبت کول او د هغه د اوامرو او سنتو اتباع، اقتداء او پيروي کول.

د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم چې د نړۍ لپاره ستر نعمت دى او ددې نعمت شکر پرځاى کول د هغه سره محبت کول دي او د هغه د سُنتو پيروي او متابعت کول دي.

الله تعالى فرمايلي دي: (قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ)[ التوبة: ٢٤]

ترجمه:- ووايه (اى محمده ! عذر ويونکو ته د هجرت له ترکه) که وي پلرونه ستاسې، او زامن ستاسې او وروڼه ستاسې او ښځې ستاسې او خپلوان ستاسې او هغه مالونه چې ګټلې دي تاسې هغه او (هغه) تجارت (سوادګري) چې ويريږئ تاسې د نا چلېدلو د هغې او هغه ځايونه د هستوګنې چې خو ښوئ تا سې هغه ډېر محبوب تا سې ته اه الله نه او ر سول د الله نه او له جهاده په لاره د الله کې( لپاره د ترقى د دين) نو انتظار کوئ تا سې تر هغه پورې چې راولي(راوليږي) الله امر (حکم د عذاب) خپل او الله نه ښيي سمه صافه لاره قوم فاسقانو ته.

په يو بل مبارک آيت کې راځي:(قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ* قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ)[آل عمران: ٣٢]

ژباره:- ووايه ( اى محمده! دوى ته)که چېرې يئ تاســې چې محبت کوئ له الله سره؛ پس متابعت وکړئ زما،چې محبت وکړي الله له تاسې سره، او مغفرت به وکړي تاسې ته ګناهونو ستاسې، او الله مغفرت کوونکى د( خطياتو) ډېر رحم کوونکى دى.

ووايه ( اى محمده! دوى ته)چې اطاعت کوئ تاسي ده الله او د رســول(د الله چې محمد دى)، پس که وګرځيدل دوى دوى (له دې اطاعت نه)پس بيشکه الله دوستي نه کوي له کافرانو سره(نو په عذابوي يې).

حافظ ابن کثير ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: دا آيت کريمه د هغه چا په اړه حکم کوي چې څوک د الله تعاليد محبت دعوى کوي او هغه په محمدي طريقې باندې نه وي ؛ نو هغه کاذب او درواغجن دى ترهغې پورې چې د محمدي شريعت اتباع وکړي او د محمدي دين پيروي وکړي په ټولو اقوالو کې، په ټولو افعالو کې، په ټولو احوالو کې .

قاضي عياض په خپل کتاب الشفاء کې ليکلي دي: د محمد صلى الله عليه وسلم سره د محبت علامه. پوهه شه چې څوک له کوم شي سره محبت ساتي ؛ نو هغه ته ترجيح ورکوي او د هغه سره موافقت ته هم ترجيح ورکوي او که دا سې نه وي ، نو د هغه په محبت کې رېښتينى نه دى او هسې مدعي دى. نو د ر سول الله صلى الله عليه و سلم په محبت کې رېښتينى شخص هغه څوک دى چې د نبي عليه الســلام د محبت علامات ورباندې ظاهر شي چې د هغو علامو څخه لومړى علامه داده، چې په هغه پســې اقتداء وکړي او د هغه په سُنتو باندې عمل وکړي او د نبي عليه السلام د اقوالو او افعالو اتباع وکړي او د هغه اوامر ومني او د هغه له نواهيو څخه ځان وساتي او د هغه پر آدابو عمل وکړي په سختۍ کې او په راحت کې ، په خوشحالۍ کې او په مشکلاتو کې او ددې خبرې شاهد د الله تعالى دا مبارک آيت دى: (قل إن کنتم تحبون الله فاتبعوني يحبکم الله).الشفا بتعريف حقوق المصطفى (٢ /٢٤)

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**